

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۲ | مسلسل نمبر: ۹۲

یکشنبه، د شوال المکرم ۸مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## سرلیکنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه کې د اوبو او انرژۍ وزارت له لورې د میدان وردګ د ګرومبي بند، د بلخ د قره تبري بند، د کندهار د شنه نري بند او د پکتیا د وچ نري بند د سروې او امکان سنجۍ مطالعاتو د پروژو په اړه بحث وشو او له هراړخیزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې د روان ۱۴۰۴ مالي کال په بودیجه کې دې ونیول شي.

د اوبو بندونو جوړول په یوه سیمه یا هېواد کې د پرمختګ او پایښت لپاره خورا مهم دي. دا بندونه د اوبو د مدیریت، زراعت، برېښنا تولید او د طبیعي آفتونو مخنیوي په برخه کې ګټور تماميږي. د اوبو بندونو په جوړولو سره کولای شو د بارانونو ترڅنګ خپلې روانې اوبه هم زېرمه او بیا یې د وچکالۍ یا د اوبو د کمښت پرمهال د څښاک، کرنې او نورو اړتیاوو له پاره وکاروو. دغه راز د اوبو بندونو په مرسته د کرنې د اوبخور سیستمونه رامنځته کېدای شي او په دې ډول کولای شو چې په دوامدار ډول د کرونډو له پاره اوبه پیدا کړو. د برېښنا په تولید سره موږ ته د دې زمینه برابرېږي چې نور هېواد ته برېښنا له نورو هېوادونو وارده نه کړو، د خپلې برېښنا په وسیله کولای شو، صنعت پیاوړی کړو. نن سبا که موږ او تاسو وګورو له برېښنا پرته نه خو صنعت وده کولای شي، نه کرنه او سوداګري. تر ټولو مهمه داده په نننۍ نړۍ کې چې کومه ټکنالوژي کارول کېږي له برېښنا پرته یې کارول ناشوني دي. د صنعت،کرنې، سوداګرۍ او نورو سکتورونو په پیاوړتیا سره به د خلکو په ورځني عاید کې زیاتوالی راشي او د خوراکي توکو بیې به راټیټې شي.

په افغانستان کې د اقلیمي بدلونونو له امله رامنځته شوې وچکالۍ تر څمکه لاندې اوبو ترڅنګ پر سطحي اوبو هم منفي اغیزه کړې او کچه یې ټیټه شوې ده. همدا لامل دی چې په هېواد کې ډېری خلک د اوبو له کمښت سره مخ دي.


د دې ستونزې له امله ډېری خلک د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي. اسلامي امارت د یادو ستونزو د هوارې او په ټوله کې د هېواد د کرنې، صنعت او دې ته ورته نورو سکتورونو د پیاوړتیا او پرمختګ له پاره د هېواد په کچه د اوبو د سترو بندونو ترڅنګ د متوسطو او کوچنیو بندونو جوړېدو ته مخه کړې ده. تر دې مهاله د هېواد په اکثرو سیمو کې د اوبو دغه ډول بندونه یا خو جوړ شوي او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او ځینې تر کار لاندې دي. اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې، په یو شمېر ولایتونو کې یې د نویو بندونو د ترلو له پاره پلانونه چمتو کړې دي. د میدان وردګو، بلخ، کندهار او پکتیا په ولایتونو کې د بندونو جوړول او د هغو د امکان سنجۍ مطالعاتو د پروژو پیل یې ښه بېلګه ده. د دې بندونو په جوړېدو سره به له یوه لورې د اوبو د کمښت ستونزه هواره شي، له بل لورې به مو د کرنې سکتور وده وکړي او برېښنا به تولید شي. په دې سره به په بېلا بېلو سکتورونو کې پرمختګ رامنځته او ملي اقتصاد به پیاوړی او هېواد به د پرمختګ په لور یون پیل کړي.

## د اقتصادي کمېسیون له لورې په هرات ولایت کې د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه تایید شوه



۲ صفحه

## ۱۴۰۴ کال کې به په یوشمېر ولایتونو کې د اوبو بندونو د امکان سنجۍ مطالعاتو پروژې پیل شي



۲ مه صفحه

## په سرپل ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



۳مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او ټــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته نامه آبادی

# د اقتصادي کمېسیون له لوري په هرات ولایت کې د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه تایید شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم په هرات ولایت کې د خصوصي سکټور له لوري د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه، پر اوسپنې ویلې کوونکو فابریکو باندې د دولتي داغمه‌جاتو د وېش او پلور، د بدخشان ولایت د وېکادور سرو زرو کان د قرارداد او همدا راز یوشمېر نور تعقیبي موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول.

په غونډه کې له مفصل بحث وروسته په هرات ولایت کې د خصوصي سکټور له لوري د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه تایید شوه. د دغه طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد کمپلکس د جوړولو په موخه څه باندې یو میلیارد افغانۍ پانګونه کوي، چې شاوخوا څلورو زرو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.

همدارنګه په یاده غونډه کې مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د اوسپنې ویلې کوونکو شرکتونو سره پخواني حسابونه تصفیه او له هغو شرکتونو چې د افغانستان اسلامي امارت پوروړي دي، پورونه ترلاسه او هغو شرکتونو ته چې د افغانستان اسلامي امارت یې پوروړی دی، پورونه تادیه کړي او د داغمه‌جاتو د وېش او پلور په تړاو دې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري منظور شوې کړنلاره تطبیق کړي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ته هم هدایت وشو، څو د بدخشان ولایت د ویکادور سرو زرو کان د استخراج او پروسس په اړه ترسره شوې داوطلبۍ بې پایلې اعلان کړي او د دغه کان لپاره نوې داوطلبي ترسره شي. د نوې داوطلبۍ پر مهال دې وړ شرکت انتخاب شي. د غونډې په پای کې د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول چې د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید او اړوندو وزارتونو او ادارو ته یې د تطبیق په اړه لازمې سپارښتنې وشوې.

پورته ذکر شوي تصامیم د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري تایید شوي دي.

# ۱۴۰۴ کال کې به په یوشمېر ولایتونو کې د اوبو بندونو د امکان سنجۍ مطالعاتو پروژې پیل شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

دې غونډې ته د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د میدان وردګ د ګړومبي بند، د بلخ د قره تېري بند، د کندهار د شنه نرۍ بند



او د پکتیا د وچ نري بند د سروې او امکان سنجۍ مطالعاتو پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له هراړخیزې ارزونې وروسته یې د روان ۱۴۰۴ مالي کال په بودیجه کې د نیولو پرېکړه وشوه.

په دغه غونډه کې د کندهار د بای پاس لویې لارې، ارغستان بند جوړولو، له کابل ولایت څخه تر جلال اباد پورې د ۹۰ کیلومتره برېښنا لېږد مزي غځولو او په جلال اباد ښار کې د شیخ مصري سب‌سټېشن د چارو بشپړولو پر موضوعاتو هم بحث وشو. له تفصیلي بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د بامیان ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ ګنده کوتل د سرپ او جستو کان څخه لاسته راغلي عواید دې د مالیې وزارت له لوري د ځانګړي کوډ په ایجادولو سره یادو عام‌المنفعه پروژو ته ځانګړي شي.

همداراز په دغه غونډه کې د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د ۱۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، د دشت الوان ۵۰۰ کیلو ولټه انتقالي مزي د پاتې چارو، د بت خاک نوي سب‌سټېشن



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياسـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

جوړولو، د چمتلي سبستېشن ۲۲۰ کيلو ولټه انتقالي مزي غځولو او همداراز د ارغندی سبستېشن ۲۲۰ کيلو ولټه انتقالي مزي غځولو پروژو له پاره د ځمکو د استملاک، لېږد او تصفيې پروسې د چټکولو په اړه هم بحث وشو. له بحث وروسته کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د يادو پروژو له پاره د ځمکې د تصفيې او استملاک پاتې ۲۰ سلنه چارې بشپړې او د ماليې وزارت دې په ۱۴۰۴ مالي کال کې د يادو پروژو له پاره د ځمکې استملاک ته بوديجه ځانګړې کړي.

د غونډې په پای کې له خصوصي سکتور سره د ننګرهار په حصار شاهي صنعتي پارک کې د ۴۰ ميګاواټه لمريزې برېښنا د پانګونې طرحه تاييد شوه. خصوصي سکتور به د دغه طرحې له مخې ۵۰،۶۹ ميليون ډالره پانګونه کوي. پورته ذکر شوي تصاميم د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري تاييد شوي دي.

## په سرپل ولايت کې د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د وري مياشتې په پنځمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په سرپل ولايت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د خصوصي سکتور له لوري د سوداګريز مارکېټ جوړولو او همدا راز په مختلفو برخو کې د پانګونې يوشمېر نورې طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.



له هراړخيز بحث وروسته د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې له لوري د راغلو تعديلاتو په نظر کې نيولو سره په سرپل ولايت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه. د دې طرحې له مخې خصوصي سکتور د شاوخوا ۹۶ ميليونو افغانيو په پانګونې سره پنځه پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړوي چې په تهکاوۍ کې به د پارکينګ په درلودو سره ۳۴۱ دوکانونه ولري.

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې دې غونډې ته د خصوصي سکتور له لوري په کابل صنعتي پارک کې د موټر جوړونې، د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د ستراتيژيک چوکاټ او په اسلام قلعه بندر کې د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. د يادو طرحو د هراړخيزې ارزونې په اړه ټاکلو شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره تخنيکي بحثونه ترسره او خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبار اقتصادی هفته

## افزایش ۱۵ درصدی تولید زعفران در هرات؛ دهاقین از عواید راضی‌اند

ریاست زراعت و آبیاری هرات می‌گوید که امسال کشت زعفران در این ولایت افزایش یافته و دهاقین از تولید و عواید آن رضایت کامل دارند. به گفته‌ی مقام‌های این اداره، قیمت بالای زعفران و افزایش صادرات آن به بیرون از کشور، علاقه‌مندی دهاقین را برای کشت این محصول بیش‌تر کرده است. زعفران که به نام طلای سرخ نیز یاد می‌شود، هر سال شمار بیش‌تری از دهاقین را به خود جذب می‌کند. بشیر احمد احمدی آمر ترویج ریاست زراعت هرات می‌گوید: «امسال وضعیت زعفران بسیار خوب است و نسبت به سال گذشته ۱۵ درصد افزایش تولید داشته‌ایم. عواید خوبی هم نصیب دهاقین عزیز ما شده و روز به روز کشت زعفران در هرات در حال گسترش است.» بر اساس آمارهای ریاست زراعت، بهای هر کیلو زعفران در بازارهای داخلی تا صد هزار افغانی رسیده که نسبت به سال‌های گذشته افزایش قابل ملاحظه‌ای نشان می‌دهد. شرکت های صادرکننده نیز از افزایش علاقه‌مندی بازارهای جهانی به زعفران افغانستان خبر می‌دهند. عبدالخالق خدادادی مسئول یکی از شرکت‌های پروسس زعفران گفت: «زعفران افغانستان به بیش از ۲۰ کشور جهان صادر می شود؛ از جمله ایالات متحده، آلمان، دنمارک، سویدن، اسپانیا و همچنین هند.» در فصل برداشت زعفران، هزاران زن و دختر در بخش چیدن گل و جداسازی زعفران مشغول کار می‌شوند. علاوه بر آن، صدها زن و مرد در شرکت‌های بسته‌بندی و پروسس زعفران نیز فعالیت دارند. ریاست زراعت هرات می‌گوید که امسال نزدیک به ۱۰ هزار هکتار زمین در این ولایت به کشت زعفران اختصاص یافته است. سال گذشته، بیش از ۴۰ تُن زعفران از این ولایت برداشت شد و انتظار می‌رود که این میزان امسال افزایش یابد.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې

د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديِ اوونيزه

هفته‌نامه آبادی


## بیش از ۳۰۰ پروژه انکشـافی در سـال ۱۴۰۳ از بودجه داخلی اجرا شده است

وزارت اقتصـاد افغانسـتان گفتـه که در سـال ۱۴۰۳ خورشـیدی، ۳۷۰ پروژه از بودجه داخلی در سراسر کشور عملی شده است. به گفته‌ی عبدالرحمن حبیب سخنگوی این وزارت، این پروژه‌هـا عمدتاً در بخش‌های زیربنایی اجرا شده‌اند و با عملی شدن آن‌ها، برای هزاران شهروند کشور زمینه‌ی کاری فراهم شده است. سخن‌گوی وزارت اقتصاد افزود: «در سال ۱۴۰۳ هجری خورشیدی، ۳۷۰ پروژه‌ی انکشـافی از محـل عواید داخلـی و بودجه‌ی انکشافی امارت اسـلامی تمویل شده‌اند که شامل ۸۷۳ پروژه‌ی فرعی در سطح ولایت‌ها نیز است.»

## برشنا: پروژه تولید ۵۰۳ میگاوات برق داخلی در دست اجرا است

شرکت برشـنا اعلام کرده اسـت که به منظور افزایش تولید برق داخلی، طرح‌هایـی با مجموع ظرفیت ۵۰۳ میـگاوات را روی دسـت گرفته اسـت. حکمت‌الله میوندی سـخن‌گوی شرکت برشـنا تاکید کرد که گفت وگوهـای تخنیکی با سرمایه‌گـذاران داخلی و خارجی برای اجرای این پروژه‌ها در حال حاضر جریان دارد. او افزود: «مـا ۵۰۳ میگاوات برق از منابع داخلی را طرح کرده‌ایم و این پروژه‌ها در چارچوب یک پلان مشخص پیش می‌روند. خوشـبختانه بخشـی از این پروژه‌ها به قرارداد نیز سپرده شده‌اند.» در حالی که برق یکی از نیازهـای اساسـی در بخش‌های صنعـت، تجارت و زراعت محسـوب می‌شـود، اما در افغانستان تا کنون توجه چندانی به تولید داخلی انرژی نشده است. برخی از کارشناسـان اقتصادی تاکید دارنـد که تولید برق از منابع داخلی، گامی مهم در راسـتای خودکفایی کشور خواهد بود. این در حالی است که پیش از این، شرکت برشنا اعلام کرده بود که بیش از چهار میلیارد افغانی از بودجه داخلی برای پروژه‌های برق‌رسـانی در کشـور مصرف شده است.



# د افغانستان زعفران او د هغو اقتصادي ګټې


ليکوال: فضل ولي شيراني


## سريزه

افغانسـتان يو کرنيز هېواد دی او کرنـه په دې هېواد کې په عنعنوي توګه د اقتصادي پراختيا له پاره يو باالقوه شاخص ګڼل کېږي. د افغانستان د کليوالي سيمو خلک له پېړيو راهيسې تر ډېره په کروندو کې په کار بوخت دي او تر پنځوس سلنه زياتي کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتياوې د کرنې له سکتور څخه پوره کوي. کرنه په افغانستان کې د شلمې پېړۍ تر نيمايي پورې په بشـپړه توګه دوديزه وه؛ خو له هغه  راوروسته د کرنې عصري کېدو ته پاملرنه وشوه او په دې برخه کې هڅې پيل شوې. د دې هڅو په لړ کې په افغانستان کې د نږدې څلور زره کرنيزو ترويجي مرکزونو جوړېدل، د اوبو د بندونو او کانالونو جوړېدل، د کوپراتيفي ټولنې او کرنيز بانـک رامنځته کېدل، د کرنيزو تخمونو د اصـلاح د مرکزونه جوړېدل، له بهر څخه د اصلاح شوو کرنيزو تخمونو را واردېدل او دې ته ورته ځينې نور کارونه ټول هغه ګامونه دي، چې پر افغانستان د پخواني شوروي تر يرغـل وړاندې ترسره شـوي وو؛ خو پـه ۱۹۷۹م کال کې د پخواني شوروي تر يرغل وروسته د افغانستان د نورو سکتورونو ترڅنګ د کرنې سکتور هم سخت اغېزمن شو. په هېواد کې د جګړو له کبله سړکونه، د اوبو لګولو سيستمونه او د کرنې څېړنيز مرکزونه ويجاړ شـول. ډېرى خلک له هېواده ووتل او خپلې ځمکې يې شاړې پرېښودې. په عموم کې د افغانستان د کرنيز سکتور په برخه کې چې نا څه کارونه شوي وو، د هغو ډېرى برخـې د دې يرغل پرمهـال له منځـه لاړې او پاتې يې د افغانستان په کورنيو جګړو کې د اور خوراک شول. په ۱۴۰۱ کال کې د اسـلامي امارت په واکمنېدو سره دې برخې ته تر ډېره بريده پام اوښتی دی. هڅه داده چې کرنيز سکتور بېرته په پښو ودرول شي او له دې لارې د عوايدو کچه لوړه شي. د دې هر څه موخـه همدا ده چې د افغانسـتان هغه کرنيزې ځمکې چې د اوبو د نشتوالي له امله په شاړو دښتو بدلې شوې دي، کرنې ته چمتو او دې برخې ته وده ورکړل شي.

## په افغانستان کې د زعفرانو کرکيله

لکه څنګه چې مخکې اشـاره ورته وشوه، افغانستان يو کرنيز هـېواد دی او د کرنې مخينه هم اوږده ده. دلته د نورو کرنيزو توکو ترڅنګ زعفران هم اوږده سابقه لري. د زعفرانو د تاريخي مخينې سربېره، هېواد کې د زعفرانوکرکېلې په ۱۹۹۱ يم کال کې پيل شوه، کله چې کډوال له ايران څخه بېرته راستنه شول د غوريان په ولسوالۍ کې يې د زعفرانو کښت پيل کړ، خو په رسـمي توګه زعفرانو کرکېلې ته د بزګرانو هڅول او ملاتړ په ۱۹۹۸ م کال کې پيل شـو. زموږ په هـېواد کې د زعفرانو د کرکيلې مخينه دوه زره کلونو ته رسېږي، که څه هم ځينې په دې اند دي، چې افغانستان د هغو سيمو په کتار کې دی، چې د زعفرانـو سرچينه ګڼل کېږي. ولـې د کرنې دا برخه هم په هېواد کې د بهرنيو تاړاکونو له امله زيانمنه او ان په بشپړ ډول له منځه ولاړه. خو په دې وروستيو کلونو کې د زعفرانو کرکيله يو ځل بيا په هېواد په تيره بيا د هېواد په لويديځ کې دود شوه.

اوسمهال د دغه بوټي کرل په ځينو نورو ولايتونو کې هم دود شـــوي دي. دا چې زعفران د هېواد پر اقتصاد څه اغيزه لري لاندې لولو.

## د زعفرانو اقتصادي ګټې

په افغانستان کې د زعفران توليد چې د افغانستان د سرې طلا په نوم هم يادېږي، په تېرو څو کلونو کې څو برابره شوی دی. زعفـــران په هېواد کې د اقتصـــادي او ټولنيز پرمختګ لامل کېدای شي. د يادولو وړ ده چې زعفران په هېواد کې د کوکنارو د توليد مستقيم او غيرمستقيم اغېز شنډولی شي. په همدې دليل زعفران په هېواد کې د کوکنارو پر ځای د بديل کښت په توګه يادېږي. سربېره پر دې، د زعفرانو کرونده ډېرو کمو اوبو ته اړتيا لري. دا په افغانســـتان کې د زعفرانو د کښت يوه لويه ګټه ده؛ ځکه هېـــواد مو تل له وچکالـــۍ سره مخامخ وي. سربېره پر دې، دا چې د کرنيزو محصولاتو د لازيات توليد لپاره ډېرو ځمکو ته اړتيا ده، په مقابل کې، د زعفران د کروندې لپاره ډېرې ځمکې ته اړتيا نشته او دا چاره د دې لامل کېږي چې په هېواد کې په ميليونونه کروندګر د زعفرانو کښت ته مخه کړي. دغه راز زعفران په کروندو کې يو زيات شـــمير خلکو ته د کار زمينه هم برابرېږي. زغفران د کارموندنې په برخه کې تر ټولو غوره بوټی ګڼل کيـــږي، چې په منځنۍ کچه هر کال په يوه هکتار ځمکه کې ۲۷۰ کســـان د زعفرانو پر کرکېلې، پالنه او راټولولو بوختېږي. له زعفران څخه استفاده په نړيواله سطحه ورځ په ورځ د ډېرېدو په حال کې ده، اقتصاد پوهان وړاندوينه کوي چې د يـــاد بوټي نړيوال مارکيټ هم ورځ تربلې د پام وړ پرمختګ کوي او په نړيوال مارکېټ کې به زعفران ډېر ژر په يو استراتيژيک محصول بدل شي. له هغو ستونزو او ناخوالو لکه جګړو او طبيعي پېښنو سره سره چې افغان کروندګر په تېرو څو لســـيزو کې ورسره مخامخ وو، د زعفرانو د توليد صنعت هيله بښونکې دی. د زعفرانو کښت د سوکاله راتلونکي لپاره د هيلې کړکۍ کېدای شي؛ ځکه د دې بوټې په توليد سره په ميليونونه کروندګر پر ځان بسيا کېږي، اقتصاد به وده وکړي او د کليوالو سيمو اوسېدونکو ته به چې د هېواد کابو ۷۴ سلنه وګړي جوړوي ډېره ګټه ورسېږي. اسلامي امارت لکه څنګه چې پورته اشاره ورته وشوه د کرنې برخې ته پاملرنه کړې او د کرنيزو محصولاتو له پاره يې د بازارموندنې او صادراتو له پاره يې د نويو سوداګريزو او ترانزيټي لارو د موندلو په برخه کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. د هېواد په د ننه کې د اوبو بندونو جوړول، د لويو او مهمو سوداګريزو او ترانزيټي لارو رغول، د سيمې له هېوادونو سره په دې برخه کې دوه اړخيز تړونونه او دې ورته نورې هڅې هغه څه دي چې اســـلامي امارت د کرنې د ودې او د کرنيزو محصولاتـــو د صادراتو له پاره ترسره کړې دي. دغه هڅې لا هم روانې دي. په کور د ننه د کرنې په ســـکټور کې د پانګې د جلب او جـــذب او د هغو له پاره په نړيوالـــو معيارونو د برابرو پروسس او بسته بندۍ د مرکزونو جوړول نور هغه څه دي چې اســـلامي امارت يې د رامنځته کېدو په لټـــه کې دی. د دې کرنيزو محصولاتو په منځه کې يو هم د زعفران بوټی دی چې اسلامي امارت پوره پاملرنه ورته کړې ده. د هرات د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست وايي، ســـږ کال دغه ولايت کې د زعفرانو کښـــتونه زيات شوي دي. د مســـوولينو په خبره، د زعفرانو لوړو بيـــو او صادراتو ته په پام، د دغه بوټي کرلو ته د کروندګرو لېوالتيا زياته شوې ده. د هرات د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست د شمېرو پربنسټ په کورنيو بازارونو کې د يو کيلو زعفرانو بيه تر سل زره افغانيو رسيږي او د تېر کال په پرتله يې بيې هم لوړې شوې دي. په هرات کې د زعفرانو صادرونکو شرکتونو د مسوولينو په خبره، نړۍوالو بازارونو کې د هېواد زعفرانو ته لېوالتيا زياته شوې ده. د هرات د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست مسوولينو د مالوماتو له مخې سږ کال دغه ولايت کې پر لس زره هکتاره ځمکه زعفران کرل شوي دي. دلته يې موږ يوه ولايت ته اشاره وکړه چې د زعفرانو د کښت په برخه کې يې زياتوالی راغلی دی. که چيرې په همدې کچه د زعفرانو په کښت کې زياتوالی راشي، نو له شک پرته چې دغه بوټی به د ملي اقتصاد په پياوړتيا او وده کې زياته ونډه واخلي.

## پايله

افغانستان د جغرافيايي موقعيت او جوړښت له امله يو ځانګړې اقتصادي ارزښـــت لري. کرنه په افغانستان کې د اقتصادي ودې يو مهم محرک ګڼل کېږي. د افغانستان تر نيمايي زيات خلـــک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. همدا لامل دی چې د افغانســـتان په ملي اقتصاد کې ستر رول لوبوي. افغانستان د کرنې له پاره پراخې ځمکې لري او هوا يې هم تر ډېره بريده د دې له پاره مســـاعده ده چې کرنه پکې ښه وده وکړي. په تېر کې د کرنې برخې ته چندان پاملرنه نه ده شـــوې او د عصري کېدو په برخه کې يې کوټلي ګامونه نه دي پورته شـــوي، چې وکولای شي د هېواد د کر وړ ټوله ځمکه په کرنيزه ځمکه بدله شي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د کرنې د پراختيا په برخه کې کوټلي ګامونه پورته او د کرنيزو محصولاتو کچه لوړه، بازار ورته پيدا او له دې سره د عوايدو کچه زياته کړي. د کرنې په برخه کې زعفران هغه محصول دی، چې کولای شي د هېواد د اقتصادي ودې ترڅنګ د سوداګرۍ په پراختيا کې هم مهمه ونـــډه لري. دا چې اوس يې په هېواد کې کښـــت ورځ تر بلې زياتوالـــی مومي، نو په راتلونکي کې به دغه کرنيز محصول د هېواد يو له هغو محصولاتو څخه وي چې وکولای شي د ملي اقتصاد په وده کې خپل ارزښت په ډاګه کړي.

## د بهرنيو اسعارو بيې




| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۱,۶۰ | ؋۷۱,۶۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۳ | ؋۲۴۴ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۳۰ | ؋۱,۳۰ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۸,۴۷ | ؋۷۸,۵۲ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸٤ | ؋۰,۸٤ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۳۷ | ؋۸۳۸ |
| ۱ | انګليسي پوند | ؋۹۲,۲۱ | ؋۹۲,۲۷ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۹,۰۸ | ؋۱۹,۰۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,٤۹ | ؋۱۹,۵۱ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۸۳ | ؋۹,۸٤ |